AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد

شیرمحمد امیني ستانکزی ۲۰۱۷/۰۹/۳۰

# سوله؛ د سولې نړیوالې ورځې په مناسبت

د سولې نړیواله ورځ؛ په افغانستان او د نړۍ په نورو هیوادونو کې هرکال د وږي دمیاشتي په ۳۰ مه نیټه لمانځل کیږي.

خو د دې ورځې لمانځنه د هیواد په ټولو ولایتونو کې اړین بریښي، چې په ځانګړې ډول د دغې ورځې یادونه وشي، ځکه افغانانو د څولسیزو جګړو قرباني شوي او دغه لړۍ اوس هم دوام لري. نو د دې ورځې یاد په خلکو کې د یوالي او وحدت ښکارندويي کوي، دولت او ولس دواړه په هیواد کې د دښمني او تلپاتې سولې هلې او ځلې پیل کړي او مخالفي لورې ته دې ووېل شي، چې نور د دولت غیږه ستاسو پر مخ خلاصه ده، په ډاډه زړه راتلای شئ، چې د سولې لاره غوره کړئ .

په هیواد کې مخکنی بدبختي زموږ ګڼ شمیر هیوادوالو ته اقتصادي، ټولنیز، ښووونیز، ځاني او په نورو برخو کې زیانونه واړول. ډیر ځوانان د تورو خاورو ښکار شول، ډیري ولسونه له هیواده مهاجر شول، د افغان بچیان له ښوونیز بهیر څخه لیري پاتي شول او په سلګونه نوري ستونزې د هیوادوالو په برخه شوې.
جګړه د سولې ضد کلمه ده، نوځکه چې په جنګونو او ورانیو کې هر څه ختمیږي، نو سوله بیا د آبادیو او خوشبختیو ستره پیلامه ده.

د سولې ورځ د شهید د اونۍ سره جوخت لمانځل کیږي، افغانانو د جګړو پرمهال دوه میلیونو څخه زیات شهیدان ورکړي دي، چې په ښکاره ډول د یادې اونۍ درناوی د پاکوشهیدانو اروا ته دعاګاني او د هغوی پاتي کورنیو ته د ډاډګیرني اوتسلیت پیغام هم وراندي شي.

د سولې ښیګڼه داده، چې هیواد ته د پراختیایي ودې لمن رانغاړي، خلک په هوسا او آرام خپل ژوند مخته وړي. همدا سوله ده، چې د دو مسلمانانو ترمنځ یوالي او محبت رامنځته کوي. بې له سولې ژوند په ویرې، ناخوالو او بدبختیو کې پرمخ وړل کیږي، خو کاش چې هغه خلک هم پوه شي، چې نور د بدبختیو څخه لاس پر سر شي او د خپلو بچیانو او خپلوانو سر یو ځای سوله ئیز ژوند ته دوام ورکړي.

په هیواد کې د یو با ثبات او باورمن حکومت په رامنځته کیدو د خلکو هیلې یو ځل بیا راوټوکیدې، ولې دغه لنډ مهالي هیلې په پوره توګه پوره نشوې. ځکه اوس هم د هیواد په ډیري سیمو کې ناامني زور اخیستي ده، چې دغو ناخوالو ته د پای ټکی ایښودل یواځې د دولت کار نه؛ بلکې ولس هم ستر مسوولیت لري، چې د جګړو مخنیوی وکړي، په لومړي سر کې هر پلار او هرې مور ته لازمه ده ،چې زوی یې له بغاوته را وګرځوي، په دوهم ګام کې د کورنۍ نور غړي هم مسوولیت لري، چې خپل نږدي کس یې له جګړو او ورانیو څخه را وګرځوي. دغه راز ولس باید له کورنیو ځواکونو سره مرسته وکړي او هغه بهرني جنګیالي، چې د تپل شوې جګړې د دوام لپاره هیواد ته را ځي، باید حکومت ته یې د فعالیتونو په اړه احوال ورکړي او تر وسې پورې هڅه وکړي، چې هغوی ته په کورونو کې ځای ورنه کړي.

نو ډیر ژر به د هیواد په ګوټ ګوټ کې د سولې پیلامې راڅرګندې شي او ولسونه به نور په آرام او هوسا ډول ورځنې ژوند ته دوام ورکړي. مقاله به د درویش دراني په دې ښکلي شعر پای ته ورسوو .

که زړونه سره یو کړو او لاسونه سره ورکړو
دا ګـانې بـه لالـونه شي دا بـوټي به لونګ شي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ